# ګلابۍ ټالنده

د پسرلی د نرمو وړانګو خوږه

د زړه په ژبی ناسته ده

د ګلابی تالنده

په تنهایی باندی برلاسه ده

د سپینو هیلی ګانو سندرۍ

د شنوځانګو

د پریکیدلو غږ

د غورځیدلی خوله

سنګار ده

مړاویتوب

دباغ د زاړو رنګونو

په بیوګرافی کی راز دی

دشنه آسمان سری وریځی

زما سر پوری رنځیږی

**څاڅکی په څاڅکی**

**دا دوه دیرش**

**په یو وار لاهو کیږی**

**دا ګلابی تالنده**

**د رڼا په زوریدلی باغ کی**

**لکه آزادی**

**لکه بربادی**

**دشنی ځانګو او پریکیدلو غږ سره الوزی**

**الوزی**

**الوزی**

**تر سری رنځیدلی وریځی پوری**

**موری**

**خوری**

**زیږو زولانو سره په کور بې ؟**

**لیمه فرهود**

**۲۱ مارچ ۲۰۱۱**